## د قربانیانو سرچینې

**کورپاڼه**

ځان خبر کړئ
آیا غواړئ د هغه څه په اړه تازه معلومات ترلاسه کړئ چې ستاسو د قضیې په هکله پېښېږي؟ ډېر معلومات ولولئ

محافظتي حکمونه
هغه کس چې د محلي تاوتریخوالي قرباني ګرځېدلای وي کولای شي د محافظتي حکم غوښتنه وکړي.... ډېر معلومات ولولئ

د قربانیانو حقونه
د قربانیانو حقونه او د Marsy قانون - ډېر معلومات ولولئ

سرچینې
محلي او ملي سرچینې

جبران
که تاسو د جرمي عمل له لارې د پیسو د زیان قرباني ګرځېدلي یاست...

په مکرر ډول مطرح شوې پوښتنې
عمومي پوښتنې

**پاڼه 1**

**ځان خبر کړئ**

آیا غواړئ د هغه څه په اړه تازه معلومات ترلاسه کړئ چې ستاسو د قضیې په هکله پېښېږي؟ دغه فورمه ډکه کړئ او زموږ له دفتر څخه به وکیل تاسو ته زنګ ووهي!

- نوم*
  [ ] لومړی نوم [ ] تخلص
- برېښنالیک
  [ ]
- تلفون*
  [ ]
- د تورن کس نوم*
  [ ] لومړی نوم [ ] تخلص
- آیا غواړئ په دغه قضیه کې د وړاندیز په اړه خبر درکړل شي؟*
  - ( ) هو
  - ( ) نه
- آیا غواړئ د قاضي په مخ کې ستاسو غږ هغه مهال واورېدل شي کله چې د تورن کس د ضمانت خط/له زندان څخه د آزادۍ په هکله بحث کیږي؟*
  - ( ) هو
  - ( ) نه

په مهربانۍ سره له دغه باکس څخه په استفادې سره موږ ته د هر هغه څه په هکله خبر راکړئ چې تاسو فکر کوئ مخکې له دې چې موږ زنګ درته ووهو مهم دي:

**د VINE د محکمې خدمات**

د VINE محکمې خدمات داسې خدمات دي چې په استفادې سره يې د جرم قربانيان کولای شي د تلفوني او برېښناليکي خبرتياوو د ترلاسه کولو لپاره نوملیکنه وکړي کله چې د هغوی د تورن کس د محکمې په وضعيت کې بدلونونه راځي.

قربانيان همدارنګه کولای شي VINE® ته د 800-511-1670 وړيا تلفوني شمېرې ته د زنګ ووهلو له لارې نوملیکنه وکړي. په ژوندۍ بڼه د مرستې خدمات په دواړو انګليسي او هسپانوي ژبو په ورځ کې 24 ساعته، په اونۍ کې 7 ورځې موجود دي.

د محکمې د نېټو د خبرتياوو د ترلاسه کولو لپاره ګامونه:

1. www.vinelink.com ته مراجعه وکړئ
2. "Kentucky"انتخاب کړئ
3. پر "Find an Offender Court Case"باندې کلېک وکړئ
4. د تورن کس نوم يا د قضيې شمېره درج کړئ
5. د تورن کس د نوم ترڅنګ پر "VINE"ټنۍ باندې کلېک وکړئ
6. پر "Notify me of Changes"باندې کلېک وکړئ
7. خپله د تلفون شمېره او/يا د برېښناليک پته درج کړئ
8. پر Continue کلېک وکړئ
9. پر "Yes, Register"کلېک وکړئ

**لېنکونه**

د قربانيانو سرچينې
په مکرر ډول مطرح شوې پوښتنې
محافظتي حکمونه
سرچينې
جبران
ځان خبر کړئ
د قربانيانو حقونه

**<u>پانه 2: محافظتي حکمونه</u>**

د Kentucky قانون د محلي تاوتريخوالي قرباني شوي کس ته اجازه ورکوي ترڅو د محافظتي حکم/آردر غوښتنه وکړي. دغه حکم کولای شي له ځوروونکي کس څخه غوښتنه وکړي چې له مشترک هستوګنځي څخه ووځي، له جرم سره تماس ونلري، هغه ځايونه محدودو کړي چې تورن کس کولای شي ورشي، او تورن کس د ځای پېژندنې په نړيواله وسيله کې ځای پر ځای کړي.

دغه خونديتوب له ډېرو کلونو راهيسې د کورنۍ د غړو لپاره، د واده شويو يا پخوا واده شويو جوړو د غړو لپاره، د هغو ناواده شويو جوړو د غړو لپاره چې دا مهال يو ځای ژوند کوي يا يې پخوا يو ځای ژوند کړی وي يا ګډ ماشومان لري، شتون لري. دغه محافظتي حکمونه چې د بېړني محافظت د حکمونو (EPO)يا د کورني تاوتريخوالي د حکومونو (DVO) په نامه يادېږي، د Warren Circuit دکورنۍ محکمې له خوا صادرېږي. د کورني تاوتريخوالي داسې قرباني چې د ناواده شويو جوړو غړی وي يا د دوستۍ رابطه ولري کېدی شي د خپلمنځي محافظتي حکم لپاره چې د Warren District محکمې له خوا صادرېږي، په شرايطو برابر وي.

د بېړني محافظتي حکم يا خپلمنځي محافظتي حکم لپاره غوښتنليکونه د Warren County د عدلي مرکز په لومړي پوړ کې د Warren Circuit Clerk په دفتر کې ثبتېږي.

د EPO/IPO لپاره په شرايطو د پوره کېدو لپاره ډېر معلومات ترلاسه کړئ.

که چېرې تاسو غواړئ چې د محافظتي حکم لپاره درخواست وړاندې کړئ يا د خپل EPO/DVO په اړه پوښتنې لرئ، په مهربانۍ سره د Warren Circuit Clerk دفتر په 270-746-7400 شمېره زنګ ووهئ يا د هغوی دفتر ته په لاندې پته مراجعه وکړئ، د Warren County عدلي مرکز، لومړی پوړ، د محلي تاوتريخوالي کړکۍ.

که چېرې د محافظتي حکم په ډکولو کې د وکیل مرستې ته اړتیا لرئ، کولای شئ شخصي وکیل ته مراجعه وکړئ یا په 270-782-1924 شمېره دKentucky د حقوقي مرستو غوښتنه وکړئ.

د Warren County د وکیلانو دفتر له محافظتي حکمونو څخه د سرغړاوي موارد څېړي. دغه ډول جرم له قانون څخه د A درجه سرغړونه ګڼل کېږي، چې جزا یې تر دوولس (12) میاشتو پورې زندان او/یا 500.00 ډالرو پورې ده.

**پاڼه 3: د قربانیانو حقونه**
که تاسو د کوم جرم قرباني یاست، نو ممکن زموږ دفتر د تلفون، لیک، یا د احضار لیک په صادرولو سره له تاسو سره تماس ونیسي او غوښتنه درڅخه وکړي چې په ټاکلې ورځ او وخت محکمې ته حاضر شئ. که تاسو د خپلې قضیې په اړه کومه پوښتنه لرئ، هر وخت کولای شئ موږ ته زنګ ووهئ.

د Kentucky په اساسي قانون کې د 2020 کال تعدیلات چې د Marsy د قانون په نامه یادېږي، د جرم د قرباني شوي کس په توګه تاسو ته لاندې حقونه چمتو کوي:

تاسو حق لرئ چې مناسب، په درنښت، او په وقار چلند درسره وشي، او د جرمي او د زلمکو د عدالت د پروسې په جریان کې له تهدید او زیان څخه خوندي وئ
تاسو حق لرئ چې د غوښتنې په صورت کې د قربانیانو د حقونو، جنايي دوسیو، د تورن کس د نیول کېدو، خوشې کېدو یا تېښتې په اړه معلومات ترلاسه کړئ
تاسو حق لرئ چې خوندیتوب، وقار او محرمیت مو په پام کې ونیول شي
تاسو حق لرئ چې په ضمانت خط کې، د قاضي د حکم په اساس په آزادېدو کې، ادعا کې یا د جزا اورولو په وخت کې ستاسو غږ واورېدل شي
تاسو حق لرئ چې له غیر منطقي ځنډ پرته قانوني اقدامات ترسره کړئ
تاسو حق لرئ چې په جنایي محکمه کې حضور ولرئ
تاسو له څارنوال سره د مشورې حق لرئ
تاسو حق لرئ چې له خپلو حقونو څخه دفاع وکړئ، وکیل ولرئ ترڅو ستاسو له حقونو څخه دفاع وکړي، یا د مشترک المنافع هېوادونو له وکیل څخه غوښتنه وکړئ ترڅو ستاسو له حقونو څخه دفاع وکړي
تاسو حق لرئ چې محکوم کس ستاسو له خوا ترسره شوې تادیه په بشپړ ډول جبران کړي

د Marsy' قانون په اړه ډېر معلومات ولولئ

**پاڼه 4: سرچينې**
Barren River Area Safe Space (BRASS)
Barren River Area Safe Space (BRASS) داسې یو سازمان دی چې د محلي تاوتریخوالي قربانیانو ته د لاسرسي منابع چمتو کوي ترڅو وکولای شي د قربانیانو او ټولنې لپاره عاجل هستوګنځی او د کړکېچ مرسته، ملاتړي خدمات، او تعلیمي پروګرامونه ترلاسه کړي.

د کړکېچ تلفوني کرښه: 1-800-928-1183 یا 270-843-1183
د Warren County لپاره سوداګریزه تلفوني کرښه: 270-781-9334
پستي آدرس: پوسټ بکس Box 1941 Bowling Green, KY 42102
د Bowling Green د پولیسو څانګه
د بېړني وضعیت لپاره، 911 شمېرې ته زنګ ووهئ.
د غیر عاجلو مرستو لپاره، 270-393-4244 ته زنګ ووهئ.

د Warren County د ولسوال دفتر
د بېړني وضعیت لپاره، 911 شمېرې ته زنګ ووهئ.
د غیر عاجلو مرستو لپاره، 270-842-1633 ته زنګ ووهئ.

د کړکېچ 7/24 کتبي کرښه
هغه ځای چې کولای شئ تاسو هلته د مرستې لپاره مراجعه وکړئ، حتی کله چې تاسو نشئ کولای په لوړ غږ خبرې وکړئ.

په متحده ایالاتو کې، هر وخت، د هر ډول کړکېچ په هکله له هرځای څخه کولای شئ 741-741 ته کتبي پیغام واستوئ.
یو حاضر، روزل شوی د کړکېچ مشاور به ځواب درکړي
crisistextline.org
د Kentucky د مجرم آنلاین پلټنه (KOOL)
kool.corrections.ky.gov

## پاڼه 5: جبران

که تاسو د غلا، جنایي فساد، د بیمې په ساتلو کې د موټر د مالک/آپرېټر په څېر د جنایي عمل له لارې د مالي زیان سبب ګرځېدلي یاست، د Warren County د وکیلانو دفتر ښایي وکولای شي ستاسو په استازیتوب د جبران غوښتنه وکړي.

جبران په عمومي توګه د تورن کس د وروستی سزا د شرط په توګه وړاندیز کېږي. د محکمې له خوا وړاندیز شوی د جبران تادیه کېدی شي د تورن کس په واسطه د Warren Circuit Clerk له لارې ترسره شي، چې دغه سازمان به د محکمې د حکم په اساس وړاندیز شوې پیسې تادیه کوي. قاضي مسئول دی ترڅو هغه مقدار پیسې وټاکي چې د جبران په توګه به ورکول کېږي او همدارنګه به د جبراني تادیاتو مکررتوب/وارونه ټاکي او جبراني تادیاتو له راټولولو څخه به څارنه کوي ترڅو ډاډ حاصل کړي چې تادیه ترسره کېږي.

که چېرې جبراني تادیات د حکم مطابق ترسره نشي، قاضي کولای شي د استماعیې غونډه ترتیب کړي ترڅو دا څرګنده کړي چې جبراني تادیه ولې نه ترسره کېږي او کولای شي بندیز ولګوي او تر هغې پورې تورن کس ته مشروطه آزادي ورنکړي ترڅو یې چې جبراني تادیه په بشپړ ډول نه وي ترسره کړې.

که چېرې تاسو د حکم مطابق جبراني تادیات نه ترلاسه کوئ، تاسو کولای شئ د Warren County د وکیلانو له دفتر سره اړیکه ونیسئ او په دې اړه خبرې ورسره وکړئ چې څنګه مخ ته لاړ شئ.

## پاڼه 6: مکرر پوښتل شوی سوالونه

آیا زه کولای شم جریمه کمه کړم؟
کله چې تورن کس د محکمې د چارواکي له خوا جریمه شي، قرباني شوی کس نشي کولای جریمه کمه کړي. د قضیې له دقیقې ارزونې وروسته، یوازې څارنوال/وکیل کولای شي دا پرېکړه وکړي چې کومه قضیه رد کړي. موږ په دقیقه توګه پوهېږو چې ګڼ شمېر داسې دلایل شتون لري چې ولې قرباني شوی کس غواړي قضیه یې رد شي، او زموږ وکیل به د قضیې د ارزونې پر مهال د قرباني شوي کس د خوښې وړ پایلې په پام کې ونیسي.

د تورن کس لپاره د جریمې کچه څومره ده؟
که چېرې تورن کس له قانون څخه په A درجه سرغړونه باندې متهم وي (لکه د جنسي تجاوز 4مه درجه)، متهم کس ته به د 500$ جریمې، 12 میاشتو زندان، یا دواړو جزا ورکول کېږي. له قانون څخه د B درجې د سرغړونې لپاره جزا 250$ جریمه، 90 ورځې زندان، یا دواړه دي.
په هر مورد کې، څارنوال کولای شي د زندان په بدل کې د مشروط زنداني کېدو وړاندیز وکړي.
د دغه قضیې حل به څومره وخت ونیسي؟
که چېرې څارنوال او د تورن کس وکیل وکولای شي روغې جوړې ته ورسېږي، قضیه کېدی شي په چټکۍ سره حل شي.
که چېرې قضیه نه حل کېږي، او یو اړخ د منصفه هیئت د پرېکړې غوښتونکی شي، قضیه کېدی شي څو میاشتې یا ډېره موده وخت ونیسي. د کووېډ-19 وبا د کارونو د ځنډ لامل شوې او ټولې قضیې له معمول څخه ورو مخ ته ځي.
زه څنګه کولای شم شکایت وکړم؟
د Warren County د وکیلانو دفتر تبعیض نه کوي. د تبعیض په تړاو باید لاندې مراجع شکایت وشي:

د KY د عدلیې او عامه مصئونیت کابینه

د کورنۍ پلټنې څانګه

د ځانګړې پلټنې عامل مدیر

Holmes St 125

Frankfort, KY 40601

Office for Civil Rights (د مدني حقونو دفتر)

Office of Justice Programs (د عدلي پروګرامونو دفتر)

Office of Justice Programs (د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت)

Seventh Street NW 810

Washington, DC 20531